دانترنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی عزیزاحمد خوارمل

# دنوې دولت د«مشروعیت »ستونزی ته په پاملرنی سره، دټایم اونیزه ولیکل : واشینګټن په افغانستان کې دطالبانودبیا رامنځته کیدوپه لټه کې دی !



**ټایم امریکایی خپرونی د (۲۰۰۹) زیږدیز کال داګست دمیاشتی پر(۲۴مه) څلرویشتمه نیټه باندی ولیکل :** واشینګټن په افغانستان کې دطالبانودبیا رامنځته کیدوپه لټه کې دی اوپه پاملرنی سره دنوې دولت «مشروعیت » **ترپوښتنی لاندی** تللی،ددرغلیورامنځته کیدل اودتیروتنوپیښی اوخبری ،دطالبانودبیرته راتګ امکان یې رامنځته کړی .
دامریکا چاپ دټایم اونیزه خپر ونه په اشاری سره دافغانستان دجمهوری ریاست دټول ټاکنوپرراوروستوشرایطوباندی ولیکل : په واقعیت اوربښتنی ډول سره دغه ټول ټاکنی نه سي کولای چې دافغانستان دراتلونکی دولت مشروعیت په پوره توګه سره تامین کړی ،اودا به یوازی و واشینګټن ته ستونزی رامنځته نکړی بلکی پرځای اوپروخت به وی ترڅو یو بی واکه دولت په افغانستان کې حاکم سي اودغه بی واکه دولت به په همدی ډول سره په افغانستان کې دطالبانو دبیرته راتګ سبب وګرځې اودا هغه شرایط دی چې امریکاییان دهغه د تحقق څخه پلوی کوي .

دټایم اونیزه خپرونه په دی رپوټ کې تر دی سرلیک لاندی ((څنګه به ممکنه وی چې دافغانستان دټول ټاکنوپایله وامریکا ته مرسته وکړی ؟)) ولیکل : دافغانستان دولت دمشروعیت په نه لرلوسره ، په نهایت کې دامریکا په ګټه به وي ځکه ډېره موده مخکې د سپینی مانی دچارواکو پام ودی مسلی ته را اوښتی دی ،چې دافغانستان سیاسي سیستم په یو داهسی ډول جوړښت سره دی چې دطالبانووبیرته راتګ ته اجازه نه ورکوي اوپه پایله کې په افغانستان کې دغه بی واکه دولت چې مشروعیت نه لري هرومرو دی ویجاړسي اوورپسی دی یوبل نوی دولت جوړ سي .

ټايم همدارنګه دافغانستان دجمهوری رياست دټول ټاکنو ددوونومانډودهيلواوادعاوپه اړه وليکل : داهسی ښکاری چې دټول ټاکنوپايلی څو ورځې نور هم په برکې ونيسی اما په پوره توګه سره مشخص دی که هرڅوک وکولای سي چې په دی ټول ټاکنوکې بريالی سي بيا به هم دمشروعيت دسونزی سره به مخامخ وي .

ددی امريکايې اونيزی دليکلوپربنسټ ، دافغانستان اوسنی جمهور ريس حامد کرزی اودهغه اصلی سيال عبدالله عبدالله ،دواړودجمعی په ورځ اعلان وکړچې په لمړی پړاوکې يې دوټونو ډېره برخه غوټ (اکثريت ) يې ترلاسه کړی دي .

ټايم زياتوي :عبداله په ټول ټاکنوکې دکرزی پلويان يې په درغليواولاسوهنوباندی تورن کړ اوداهغه ايډيا وه چې حتی دټول ټاکنودورځي دپيل کيدوڅخه مخکې هم شته والی يې درلود ./

اخيځ دقطره نيوز څخه